عمومي اسامبله
امنيت شورا

خپریدل: عمومي
۱۰ دسمبر ۲۰۱۰

اصل: انګليسي

عمومي اسامبله
پنځه شپېتمه ناسته
د اجنډا ۳۸ موضوع
**په افغانستان کې وضعيت**

امنيت شورا
پنځنه شپیتیم کال

# په افغانستان کې وضعيت او پر نړيوالې سولې او امنيت باندي يې اغيزې

## د سرمنشي راپور

### لومړي: سريزه

۱. دا راپور د عمومي اسامبلې ۶۴/۱۱ پريکړه لېک او د امنيت شورا د ۱۹۱۷ (۲۰۱۰) ګڼه پريکړه لېک پر بنسټ ترتيب شوی دی، چې پکې د امنيت شورا زما څخه غوښتی دی تر څو په هرو دريو مياشتو کې په افغانستان کې د بدلونونو په اړه راپور ورکړم.

۲. دار راپور په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندوي پلاوي (يوناما) سربېره د ملګرو ملتونو د ټولو کړنو په هکله تازه معلومات وړاندي کوي او د ۲۰۱۰ کال د سپتمبر د مياشتې ۱۴ نېټې څخه زما د پخواني راپور (A/65/552-S/2010/463) را وروسته موده باندی بيا کتنه کوي. دغه راپور، د راپور ورکولو په موده کې د مقننه څواک د ټاکنو سربېره د مهمو سياسي او امنيتي بدلونونه او همدارنګه د افغانستان په اړه د سېمه ييزو او نړيوالو پېښو لنډيز وړاندي کوي. ياد راپور په افغانستان کې د ملګرو ملتونو له خوا د يو شمېر بشري، پرمختيايي او بشري حقونو د فعاليتونو په اړه هم تازه معلومات وړاند کوي. د دې علاوه، د ۲۰۱۰ کال د اکتوبر د مياشتې په ۲۹ نېټه، د پارلماني ټاکنو په اړه تازه معلومات امنيت شورا ته رواندي شول.

### دويم: امنيتي او سياسي بدلونونه

#### ټاکنيز بدلونونه

۳. د ملي شورا (ولسي جرګه) ټاکنې د پلان سره سم د سپتمبر د میاشتې په ۱۸ نېټه ترسره شوی دی. د یو لړ د شرایطو د نه پوره کولو له امله د نوم لړ څخه د ایستولو وروسته، د ۳۹۶ ښځو په ګډون ۲۵۰۶ نوماندانو د ۲۴۹ څوکیو لپاره ټاکنو کې برخه واخیستله. د رایو ورکولو د ۶۸۳۵ مرکزونو څخه چې په پیل کې پلان شوی وو، ۹۳۸ یې تر ټاکنو دمخه د امنیتي اندېښنو له امله نامناسب وګڼل شول. د رایو ورکولو ۳۹۷ نور مرکزنه د ناامنیو او یاهم د ټاکنیزو موادو د نه رسیدلو له امله د رایو ورکولو په ورځ بند او یا تر هغې دمخه وتړل شول. پدې توګه د رایو ورکولو په ورځ کې د ۵۵۰۰ د رایو مرکزونه پرانستې وو.

۴. د طالبانو او نورو ناقانونه وسله واله ډولو له ګواښونو او تاوتریخوالي سربېره، د اټکل شوی او په شرایطو برابر ۱۲ ملیونو رای ورکوونکو له جملې څخه کابو ۴،۳ ملیونه افغانان خپله رایه وکارول. که څه هم د هم د هېواد په ځینو برخو کې تاوتریخوالی د رایو ورکولو په پروسه کې ګډون اغیزمن کړی و، خو ټولیز ډول د ټاکنو په ورځ د تېر کال د ولسمشریزو ټاکنو په پرتله، په امنیتي وضعیت کې د پام وړ خرابوالي ترسترګو نشو. پېښې ډیري وې خو د تاوتریخوالي شدت ټیټ وو، او د رایو ورکولو په روځ د تاوتریخوالي کچه د کال په اوږدو کې د تاوتریخوالي لوړې کچې سره برابر وو. یوناما د رایو روکولو په ورځ د ۳۲ تنه ملکي وګړو مرګ ژوبله ثبت کړی دی.

۵. د رایو کارولو د بهیر د بشپړیدو وروسته راڅرګند شو چې د هېواد په کچه پراخه درغلی او بې نظمی ترسره شوي وي. د ټاکنو خپلواک کمیسیون د درغلیو د کشف او سمولو ګامونه اوچت کړی او د شکمنو ټاکنیزو محلونو او مرکزونو د رایو د څېړلو او بیا شمېرنه ترسره کړی ده. هغه نوماندان چې په درغلیو کې په لاس لرلو تورن وو او یا د چا په پلویتوب درغلیو صورت نیولی دی، د ټاکنېزو شکایتونو کمیسیون ته راجع شول. د ټاکنو خپلواک کمیسیون، د لومړنیو پایلو تر اعلان مخکې، د ۶۸۱۳ ټاکنېزو مرکزونو رایي څېړلې، پلټلې او بیا شمېرلې (دا ۱۷۷۴۴ مرکزونو ۳۹/۳۸ سلنه ښیي چې د رایو ورکولو په ورځ کې پرانېستې وو). له دې څخه، د ۲۵۴۳ مرکزونو رایي رد شول.

۶. د لومړنیو پایلو د اعلان وروسته، د ټاکنېزو شکایتونو کمیسیون سره د ثبت شویو شکایتونو شمېر د پام وړ په کچه زیات شو. د ټاکنو د ورځې او د لومړنیو پایلو له اعلان څخه دري ورځې وروسته (چې د رایو ورکولو اړوند شکایتونو د ثبتولو ورستی نېټه وه)، کمیسیون ۵۸۶۰ شکایتونه ترلاسه کړل. له دې جمعې څخه ۲۷۲۴ (۴۷ سلنه) د جدی نوعیت شکایتونه وو چې کیدای شي ټاکنیزې پایلې اغیزمن کړي. دا ډول شکایتونه د نومبر د میاشتې تر ۱۵ نېټې پوری تعقیب او په اړه یې پریکړه وشو. د رایه اچوونې د ورځې وروسته، کمیسیون ۲۷ نوماندان حذف کړل: ۲۴ تنه یې په درغلیو کې د لاس لرلو او ۳ تنه یې له دولتي دندو څخه د استعفاء نه ورکولو له امله په ګډون. پدې سره د بې لا بېلو دلایلو له مخې د ایستل شویو نوماندان شمېر ۱۱۸ تنو ته ورسید. کمیسیون د ۲۲ ولایتونو د رایو اچونې د ۳۳۴ مرکزونو رایې باطل اعلان کړ. په ټولیز ډول، د ټاکنو خپلواک کمیسیون او د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون له ۲۸۹۱ مرکزونو څخه ځېنې یا ټولې رایي باطل اعلان کړی دی. په ټولیز ډول سره، ۴۲۷۱۹۰۸ رایې د اعتبار وړ وګڼل شو او ۱۳۳۰۷۸۲رایې باطل اعلان شول او پدې توګه په پایلو کې شامل نه کړای شو.

۷. د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون له خوا د بشپړ او کره پلټنې او بیا شمېرنې له کبله، د لومړنیو پایلو اعلان د اکتوبر د میاشتې له ۹ نېټې څخه ۲۰ نېټې وغځیده. ټاکنیز شکایتونو کمیسیون ته د ډیرو شکایتونو رارسیدو ته په پام کې نیولو سره، د وروستې تایید شوي پایلې اعلان چې باید د اکتوبر د میاشتې په ۳۰ نېټه باندي ترسره کیده، د ۳۳ ولایتونو د کوچیانو د حوزی د ټاکنیزو پایلو خپرول د نومبر د میاشتې ۲۴ نېټې ته وغځیده. د غزنی ولایت د ټاکنېزو پایلو تصدیق، د تخنیکي دلایلو له مخې

د دسمبر تر لومړۍ نېټې پوري وځنډول شو او د دې لامل دا و چې له دغه ولايت هزاره نوماندان ټاکنې ګټلې وو حال دا چې غزنۍ ولايت د پام وړ پښتانه وګړي هم لري.

۸. د ټاکنو پايلو په ولسي جرګه کې توکمېز استازيتوب کې د پام وړ بدلون راويست. د پښتنو د څوکيو شمېر تر ۲۰ څخه زيات را ټيټ شو. په توکميز استازيتوب کې کمښت په لوړه کچه په سهيل او ختيز سيمو کې د امنيت نشتوالي له امله و چې په پايله کې يې په پښتون ميشتو ولسواليو کې د رايو ورکونې د مرکزونو او د رايه ورکوونکو د کمښت لامل وګرځيد. په توکميز ډول ګډو ټاکنېزو حوزه کې د پښتنو تر منځ د يوالې نشتوالې او د سياسې نظم ټيټه کچه هم د دې لامل و.

۹. ورستي پايلې په مختلفو برخو کې د يو څه ناخوښۍ لامل وګرځيد. ناکامو نوماندانو په کابل، بغلان، بدخشان، فارياب، سمنګان، هرات خوست او د هېواد په نورو برخو کې لاريون وکړل او د ټاکنو پر پايلو يې نيوکې وکړل. لويه څارنوالۍ د ټاکنېزو بنسټونو د پريکړو په اړه په څرګنده توګه اندېښنه ښودلې ده او يو لړ څېړنې پيل کړی دی. د افغانستان دواړه ټاکنېز بنسټونو ټينګار کوي چې پداسې حال کې چې د اشخاصو پر وړاندې جنايې قضيې د يوې ړنې پروسې برخه کيدای شې خو د ټاکنېزو مسايلو په اړه د دوې پريکړې د قانون له مخې نهايي دي.

۱۰. يوناما، اروپايي ټولنه، د امريکا متحده ايالاتو، کانادا، ترکيې او د روسې فدارسيون د وروستېو پايلو د اعلان هرکلۍ او د ټاکنو خپلواکو بنسټونو له کار څخه يې ملاتړ څرګند کړی خو يې زياته کړی دی چې دا بهېر لا هم ښوالې او سمون ته اړتيا لري او غوښتنه يې وکړه چې په هغو قضيو کې کوم چې درغلۍ موندل شوي دي او ثابت شوي وي، حساب ورکونه پلې شي. په پراخه کچه داسې انګيرل کيږي چې دا ټاکنې چې د ټاکنو د خپلواک کميسيون له خوا د افغانانو په مشرۍ ترسره شوي دي، د تېرو ټاکنو په پرتله د پام وړ تخنيکې پرمختګ ښودلی دی. د دې تر څنګ د ټاکنېزو شکايتونو د کميسسيون له خوا د ټاکنېزو سرغړونو له امله د ځېنو زورواکو د شرايطو د واجد نه منلو په اړه خلکو خپل ملاتړ ښودلی دی.

۱۱. د ټاکنېزو بسټونو، په ځانګړي ډول د ټاکنو د خپلواک کميسيون د ظرفيتونو د لا پياوړي کولو او د اږود مهاله ټاکنېزو سمون ترسره کولو په موخه د ملګرو ملتونو د راتلونکې ملاتړ په اړه بحثونه پيل شوي دي. ډونرانو د دې ډول هڅو ملاتړ ته چمتوالې ښودلی دی. پدې اړه هوکړه شتون لری چې د اصلاحاتو بهېر بايد د افغانانو په مشرۍ، د يوناما په سياسې ملاتړ او د نړيوالې ټولنې په ځانګړي توګه د اروپايي ټولنې د مالې او تخنيکې مرستو سره ترسره شي.

**امنيتي وضعيت:**

۱۲. د ۲۰۰۹ کال د ورته مودې په پرتله، د امنيتي پېښو په شمېر کې ۶۶ سلنه زياتوالې راغلي دی. د رايو ورکولو په ورځ لومړۍ تاوتريخوالې زيات خو وروسته لږ شو. د رايو ورکولو په ورځ پداسې حال کې چې د پېښو شمېر هم زيات وو، خو د تېرې کچې امنيتي پېښو ځانګړنې درلودل چې موخه يې د تلفاتو اړول نه بلکې د رايو ورکوونکو احتمالې ډارول وو. د دغو امنيتي پېښو يو عام تاکتيک دا وو چې د رايو ورکولو پر مرکزونو باندې د راکټونو او هاوانونو سره بريدونه ترسره شي.

۱۳. د تېر راپور د مودې په شان، د افغان ملي امنيتي او نړيوالو پوځي ځواکونو تمرکز د اوړي په موسم کې د دولت د مخالفينو څخه د هلمند په ولايت کې د سېمو بېرته اخيستل او همدارنګه د کندهار ښار د بشپړ کنټرول لپاره د عملياتو تمرکز و. د دې عملياتو له امله د طالبانو د منځنۍ کچې غړي زيات شمېر کسان وژل شوي او يا نيول شوي دي، چې د راپور په موده کې د دغو عملياتو شدت او ساحه پراخ شوی دی. د دې فشار برسېره، د دولت مخالفو ډلو وکولای شول چې په هغو سېمو کې چې پدې وروستيو کې ترلاسه کړې دي، په ځانګړې توګه په شمال او شمال ختيز کې چې په هغه کې نړيوال پوځيان لږ شتون لري، په لوړه کچه فعاليت ته دوام ورکړي دي.

۱۴. د دولت مخالفو ډلو د خپل په لاس جوړ شوي چاوديدونکو توکو په کارولو او په نېغه د تښتونو او اوژلو له لارې، د ملکي وګړو په نښه کولو ته دوام ورکړی دی. د وژنې شمېره د اګست په مياشت کې په بېساري توګه زياته شوی، چې په لويه کچه ملکي وګړي او پوليس پکې په نښه شوي دي. د نادولتي موسسو د کارکوونکو تښتول هم ډېر شوی دی. د جون په مياشت کې د اکتوبر د مياشتې تر پايه پورې، د حکومت مخالفو ډول په ټولېزه توګه د نادولتي موسسو ۱۳۴ کارکوونکي تښتولي دې. په ډېرو مواردو کې نيول شوي کسان د لنډې مودې ساتلو وروسته خوشې کړاي کړاي شوي خو د يو نادولتي موسسې يو تن تښتول شوې کارکوونکې د تښتونکو لخوا ووژل شو.

۱۵. په منځنۍ ډول په اونۍ کې درې ځانمرګي بريدونه ترسره کېدل چې په عمده نړيوال پوځي ځواکونه، پوليس او حکومتي چارواکي، او په ځانګړه توګه هغه کسان چې د بلوا په وړاندې فعاله ګڼل کيږي، په نښه شوي دي. پېچېلي ځانمرګي بريدونه هم دوام درلود چې په عمده ډول لوي او پياوړی نړيوال پوځي اډې په نښه شوي دي. په ملکي هدفونو کې په کندز کې يوه پرمختيايي اداره او همدارنګه په هرات ولايت کې د ملګرو ملتونو موسسو ګډ دفتر ودانۍ هم شامل وه. دغه بريد د اکتوبر د مياشتې په ۲۳ نېټه ترسره شو، چې په تېرو دريو کلونو کې د ملګرو ملتونو په وړاندې درېم ځانمرګي بريد و. کارکوونکو ته مرګ ژوبله ندې اوښتې او ټول بريدګر مخکې له دې چې د دفتر ودانۍ ته داخل شي، ووژل شول. افغان امنيتي او د قانون د تنفيذ پرسونل د بريد په وړاندې چټک غبرګون وښود. دوي خپلې هڅې او په ودانۍ کې دننه د ماموريت د خصوصي قرارداد شوي نړيوالو وسلوالو ساتونکو سره همغږي کړې وي تر هغه دمخه چې د بريد کوونکو مخ و نيسي او په پايله کې يې شنډ کړي. برسېره پر دې، نړيوال سوله ساتې ځواک (ايساف) سمدستي د وضعيت د څارنې لپاره يوه چورلکه واستوله. هغه مخنيوي کوونکې تدبېرونه، چې د ۲۰۰۹ کال د اکتوبر د مياشتې په ۲۹ نېټه د باختر پر ميلمستون بريد وروسته پلي شوي وو، په ښکاره ډول سره د ملګرو ملتونو د تلفاتو په مخنيوي کې مرسته وکړه. په هرصورت، دغه بريد څرګنده کړه چې محتاط پاتې کيدو او همدارنګه د يو متحرک امنيتي چاپېريال سره سمون ته ادامه ورکولو ته اړتيا ده چې ځينې په ښکاره توګه منې چې ملګرې ملتونه يو هدف دی.

۱۶. دا حقيقت چې ملګري ملتونه يو هدف دی، د اوريکو د رسنيو سرچينو څخه اټکل کيدای شي چې په کې د ملګرو ملتونو پر ضد وينا کې زياتوالی راغلی دی. دغې څرګندونې چې د طالبانو په ويبپاڼو او د طالبانو په خپرونو کې خپريږي، له ټاکنو څو اوونۍ مخکې درول شوې وې، خو له ټاکنو وروسته يو ځل بيا پيل شوې. د امنيت شورا له خوا د ايساف د ماموريت تمديد او د دولت ضد عناصرو د عملياتو په پايله کې د ملکي تلفاتو په اړه د ملګرو ملتونو راپور، په هرات کې د ملګرو ملتونو په وړاندې د بريد لپاره د توجيه په توګه وړاندې شوی دی.

۱۷. د دسمبر د میاشتې په ۶ نېټه، د کورنیو چارو وزارت اعلان وکړ چې خصوصي امنیتي شرکتونه به د ځینو اضافي محدودیتونو، لکه له د سړکونو بندول او تلاشیګانو څخه ډډه کولو سره سره، کولای شي په افغانستان کې فعالیت ته دوام ورکړي، په داسې حال کې چې دا ډول فعالیتونه یوازې د افغان قانون پلي کوونکو ادارو لپاره مشروع عمل دی. دغه اعلان په اغېزمن ډول سره د اګست د میاشتې په ۱۷ نېټه کې د ولسمشر فرمان بیا کتنه وه چې د ۲۰۱۰ کال د دسمبر تر ۱۷ نېټې پورې د ټولو، افغان او نړیوالو خصوصي امنیتي شرکتونو د منحلولو غوښتنه کړې وه.

۱۸. ملګري ملتونه او په افغانستان کې د نړیوالې ټولنې نورو استازو د ولسمشر د فرمان هرکلی کړي، خو د پلې کیدو د مهال ویش په اړه یې اندېښنه ښودلې ده. دوی ویره ښودلې چې د افغان چارواکو له خوا د امنیت له تامین څخه مخکې د دا ډول شرکتونو منحل کول به د نړیوالو شرکتونو او بانکونو، چې د افغانستان د خصوصي او پرمختیایی سکتورونو لپاره حیاتي دی سربېره، د ډېرو پراختیایي او فعالیتونو د لغوه کیدو لامل وګرځي. د کورنیو چارو وزارت په مشرۍ یو ګډ کمیسیون چې پکې د امریکا متحده ایالاتو په مشرۍ د نړیوالې ټولنې استازی ګډون درلود، د شمالي اتلانتېک تړون سازمان (ناټو) او ایساف د لوړ پوړي ملکي استازې په نږدې همکارۍ د ولسمشر اهدافو ته رسیدو او د نړیوالو اندېښنو د لرې کولو لپاره د عملي لارو موندلو په موخه جوړ شو. د دسمبر د میاشتې په ۶ نېټه اعلان په ټولېزه توګه د حکومت او افغانانو د ملاتړ مهمو نړیوالو فعالیتونو دوام به تضمین کړي. په هر صورت، په هېواد کې د امنیت د تامین لپاره د دولتي بنسټونو د اړتیا په اړه د ولسمشر بنسټېزې اندېښنې پر ځای دې او باید د لېږد د پروسې له لارې حل شي.

**افغانانو ته د امنیت مسؤلیت سپارل**

۱۹. په تېر کال کې یوه لویه هڅه، د ۲۰۰۹ کال د نومبر په میاشت کې د ولسمشر حامد کرزي د پرانیستې وینا راهیسې، د یوه داسې چوکاټ جوړول ده چې له مخې یې د ۲۰۱۴ کال تر پایه پورې بشپړ امنیتي مسوولیتونه افغان ځواکونو ته به وسپارل شي. د ۲۰۱۰ کال د نومبر د میاشتې په ۲۰ نېټه د لیزبن په ښار د ناټو سرمشریزې په څنډه کې د ایساف د دولتونو مشرانو او حکومت په غونډه کې چې ما پکې ګډون کړی و، افغان مشرتابه ته د لېږد چوکاټ تصویب شو. دا پروسه د لېږد لپاره یوه روښانه لار ټاکي چې ولایت په ولایت، افغان بنسټونه کولی شي چې د نړیوالو محاربوي ځواکونو له وتلو سره، د امنیت او حکومتولۍ مسولیت په غاړه واخلي. د حکومت د شریکانو سره په همکارۍ، د نړیوالې ټولنې سره اړیکې او ټولشمولیت سره د یو بشپړ ستراتیژیک پلان د پلي کولو یا چوکاټ په جوړولو کې، باید د ناټو د لوړ پوړی ملکي استازي ستاینه وشي.

۲۰. ملګري ملتونه به د دې لېږد د ملکي اړخونو ملاتړ وکړي. یوناما د حکومتولۍ او پراختیا په برخو کې د پروسې پر اغېزې او فرصتونو غور کوي. ماموریت د لېږد د ښه ملاتړ لپاره د خپلو ساحوي دفترونو د کارمندانو ګمارلو او یوځای کولو ته لومړیتوب ورکړی دی. او په پای کې، د ملګرو ملتونو د هیواد په کچه ټیم د حکومتولۍ پیاوړتیا او د اړینو خدماتو وړاندې کولو کې د ولایتي چارواکو د ظرفیت لوړولو د ملاتړ لپاره لارې چارې څېړي.

**سوله او بیا پیوستون**

۲۱. د سولې د مشورتي جرګې، چې د ۲۰۱۰ کال د جون د میاشتې له ۲ څخه تر ۴ نېټې پورې جوړه شوې، یوه مهمه پایله، چې زما په پخواني راپور کې بیان شوی دی، د جرګې په غوښتنه د ولسمشر کرزي لخوا د سولې عالي شورا جوړول وه. شورا دنده لري چې د باور جوړونې له لارې سولې او ملي یووالي ته وده ورکړي او د افغان سولې او بیا پیوستون پروګرام ته د سیاسي او ستراتیژیک مشرتابه چمتو کړي. د شورا په ۷۰ غړو کې د افغان ټولنې د سترو سیمه ییزو، قومي، مذهبي او سیاسي ډلو استازي ګډون لري. په دغه شورا کې ۱۰ تنه ښځینه غړې او همدارنګه د مدني ټولنې د سازمانونو استازي او د طالبانو د رژیم ۱۲ پخواني چارواکي شامل دي.

۲۲. ولسمشر کرزي د اکتوبر د میاشتې په ۷ نېټه په لومړۍ غونډه کې شورا رسماً پرانستله. ولسمشر له غړو وغوښتل چې د پخلاینې په برخه کې د فعالیتونو د پیلولو د څرنګوالي په اړه نظرونه او وړاندیزونه وړاندې کړي. د اکتوبر د میاشتې په ۱۰ نېټه پخوانی ولسمشر برهان الدین رباني د شورا د رییس په توګه تصویب او وټاکل شو چې د دریو مرستیالانو لخوا ملاتړ کیږي: د طالبانو د رژیم پخوانی غړی عبدالحکیم مجاهد؛ د حزب اسلامي د سیاسي ګوند وتلی شخصیت مولوي عطاالله لودین؛ او یو دولتي چارواکی او د ولسمشر اوسنی سلاکار اسدالله وفا.

۲۳. د اکتوبر د میاشتې په ۲۰ نېټه د سولې عالي شورا د جګړې له ټولو خواوو وغوښت چې له تاوتریخوالي لاس واخلي او خبرو ته کېني. دغه راز شورا له ملګرو ملتونو په ځانګړي ډول وغوښتل چې په دې پروسه کې خپله ونډه ولوبوي او په افغانستان کې د سولې او ثبات د پروسې لپاره د نړیوال ملاتړ او ژمنو د ترلاسه کولو او پیاوړتیا لپاره لا زیات کار وکړي. د اکتوبر د میاشتې په ۳۱ نېټه زما د ځانګړي استازي او د شورا د اجرائیوي کمیټې د غړو تر منځ په یوه ناسته کې هوکړه وشوه چې یوناما به د تخنیکي او عملي مرستو لپاره د شورا ځانګړو غوښتنو ته د ځواب ویلو لپاره داخلي ظرفیت رامنځته کړي. دا هوکړه وشوه چې د «سلام ملاتړ ډله» به، چې زما د ځانګړي استازي لخوا د یوناما او ډونرانو د سرچېنو په مرسته جوړه شوې چې په عمومي توګه د پخلاینې د پروسې ملاتړ کوي، دا ظرفیت برابروي. په همدې حال کې د سولې عالي شورا د اسلامي کنفرانس له سازمان څخه هم وغوښتل چې په دې برخه کې مرستې او اسانتیاوې برابرې کړي. یوناما په دې بهیر کې د اسلامي کنفرانس له سازمان سره د لا زیاتې ونډې اخیستو په هڅه کې ده او د دې اعلان هرکلی کوي چې د اسلامي کنفرانس د سازمان یو استازی به ډېر ژر په کابل کې حضور ولري.

۲۴. په رسنیو کې د دولت د استازو او د وسله والو مخالفینو د غړو ترمنځ د اړیکو راپورونه ډېر شوي دي. خو د طالبانو تحریک په څرګنده له چارواکو سره په اړیکو کې ښکیلتیا او د خبرو اترو نظر یې رد کړی دی. سربېره پر دې، د سپتمبر د میاشتې په ۲۹ نېټه طالبانو یوه اعلامیه خپره کړه او ادعا یې وکړه چې د سولې عالي شورا "د افغانانو د غولولو لپاره یو غیر عملي پلان" دی او دا کار بهرنیانو ته ګټه رسوي. د نومبر د میاشتې د ۱۵ نېټې ملا عمر ته منسوب یوه لیکلي پیغام یو ځل بیا د خبرو اترو نظر رد کړ او د اړیکو راپورونه یې پروپاګند وبلل.

۲۵. په تاکتیکي کچه، څو وسله والو ډلو چارواکو ته مراجعه کړې او پې وسلې کیدو او بیا پیوستون ته یې چمتووالی ښودلی. د افغانستان د سولې او پیوستون پروګرام د ګډ دارالانشا د معلوماتو له مخې، په بېلابېلو ولایتونو په ځانګړې توګه بادغیس، فاریاب، هرات او کندز کې تر ۸۰۰ وسله وال کسان چې د پخلاینې او یو ځای کېدو غوښتونکي وو، ځانونه چارواکو ته تسلیم کړي دي. د ایساف، کورنیو چارو او دفاع وزارتونو او د ملي امنیت ریاست د استازو په ګډون ګډ پلاوي د دغو غوښتنو د

ارزوني، د افرادو د بایومتریک معلوماتو او د وسلو د ثبت او راټولولو لپاره استول شوي وو. د خوراکي او غیر خوراکي توکو د انتقالي مرستې کڅوړې، چې د ۹۰ ورځو د لړترلږه مرستې لپاره چمتو شوي، دغو کسانو ته وکړل شوې. د جګړې پرېښودو ته د لیوالتیا دا نښې هڅوونکې دي، خو دا پایله اخېستل چې دې شان لیوالتیاوې د پام وړ تمایل څرګندوي، وخت غواړي. برسېره پردې، داسې نظرېې هم شتون لري چې آیا ټول هغه کسان چې ځانونه تسلیم کړي اصلي وسله وال دي یا ملکي وګړي چې د پروګرام لخوا وړاندیز شوې مرستې ترلاسه کول غواړي. د راپورونو له مخې ځېنې یې د دولت ضد کومې اصلي ډلې سره تړاو نه لري. ګډ دارالانشاء د راجستر شوي اشخاصو هویت په تاییدولو بوخت ده ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې دغه برنامه د هدف سره په سمون کار کوي.

**سیمه ییزه همکاري**

۲۶. د راپور په موده کې د افغانستان سېمه ییزه تګلاره له ګاونډیو هېوادونو سره د سیاسي خبرو اترو پر مخ بیولو او د امنیت او پراختیایي همکاریو پر پراختیا تمرکز درلود. د افغانستان او پاکستان حکومتونه په ځانګړې ډول په لوړه کچه یو بل سره ښکېلتیا ته دوام ورکړی دی. د سپتمبر د میاشتې په ۱۵ او ۱۶ نېټه ولسمشر کرزی پاکستان ته سفر وکړ او هلته یې له ولسمشر آصف علی زرداري او لومړی وزیر سید یوسف رضا ګیلانی سره د دوه اړخیزو همکاریو پر پیاوړتیا خبرې وکړي د دې ښې اړیکو په پایله کې یو لوی مثبت پرمختګ د اکتوبر د میاشتې په ۶ نېټه د پاکستان د کابېنې له خوا د افغانستان – پاکستان ترانزیټي سوداګرۍ تړون تصویب شو. د دې تړون له مخې به د دواړو هېوادونو تر منځ نږدې ۲ میلیارده ډالر سواګری منظم شي او د افغانستان سوداګری مالونه د پاکستان له لاري لېږدول کیږی او په سېمه ییزو او نړیوالو بازارونو کې وپلورل شي.

۲۷. د اکتوبر د میاشتې په ۲۵ او ۲۶ نېټه کابل ته د تاجکستان د ولسمشر امام علی رحمان د سفر په ترڅ کې د افغانستان او تاجکستان حکومتونه د سوداګرۍ کرهنې، او د پولو د امنیت په برخه کې د همکاریو پر پراختیا خبرې وکړې.

۲۸. د افغانستان په اړه د سېمه ییزو اقتصادي همکاریو څلورم کنفرانس د نومبر د میاشتې د ۲ تر ۴ نېټې پورې په استانبول کې جوړ شو. پدې ستره غونډه کې چې د ۲۷ هېوادونو او د ۱۴ نړیوالو او یا سېمه ییزو سازمانونو استازو ګډون درلود، د اقتصادی همکاریو په برخه کې د افغانستان، ګاونډیو هېوادونو او نړیوالې ټولنې له خوا شوی ژمنې پیاوړې شوي دي. به ۲۰۰۵ کال کې، د پیل راهېسې د کنفرانس بهیر په، د شمېر او د اهمیت له پلوه وده کړې ده. دریم کنفرانس د ۲۰۰۹ کال د مې په میاشت په اسلام آباد کې جوړ شو او په استانبول کې راغونډ شویو کسانو له هغه وخت راهېسې د پام وړ پرمختګونه ولیدل. کنفرانس په پایله کې د پانګه اچونې د لومړیتوبونو په اړه سپارښتنې وړاندې شوي دي، چې د سېمه ییزو سړکونو او اورګاډې پټلۍ په پراختیا باندي، د کانونو د استخراج صنعت، د ترانزیت د سوادګرۍ تړون پلې کولو لپاره د ډونراو ملاتړ، او د ګمرکونو او ترانسپورت زیربناو پر همغږی کول او پراختیا تمرکز درلود. سریېره پر دې د سېمه ییزو اقتصادی همکاریو د وړاندي کولو، چې د افغانستان او د هغه د ګاونډیو هېوادونو په ګټه وي د سېمه ییزو او نړیوالو شریکانو له خوا د غور لپاره مشخص شول. د سېمه ییزو همکاریو مرکز د کنفرانس سکرتریت دی چې د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت په ودانۍ کې موقعیت لري، او د کنفرانس اغیزمن چمتو والی د دغه وزارت د ظرفیتونو لوړوالې څرګندوي. د کنفرانس په څنډه کې د سوادګرۍ یو فورَم او یو اکادمیک دفتر د باسفورس په پوهنتون کې بلل شوي وو. دې ته په پام کې نیولو سره، زه غواړم چې د ترکیې د هېواد د رغنده ونډې ستاینه وکړم چې په افغانستان کې یې د سېمه ییزې ښکلیتیا د اسانتیا او پرمختګ په برخه کې لوبولې دی.

۲۹. د کابل د رېښمو د لارې د نوښت څلورمه غونډه د ۲۰۱۰ کال د نومبر د میاشتې په ۲۷ نېټه په کابل کې جوړه شوه. دا نوښت د تېر کال په پیل کې زما د ځانګړي استازی لخوا پیل شوي و تر څو د افغانستان لپاره د سېمه ییزو همکاریو د پراختیا لپاره د لارو او وسیلو په اړه د حکومت، یوناما او په کابل کې د افغانستان د ګاونډیو هېوادونو د سفیرانو تر منځ غیر رسمي خبرو اترو ته لاره هواره کړي. دغه کتنه پداسې حال کې ترسره شوه چې د نشه يي توکو او جرمونو په برخه کې د ملګرو ملتونو د دفتر نوي ټاکل شوي اجرائیوي رئیس یوري فیدوتوف کابل ته راغلی و. ښاغلی فیدوتوف د غونډې برخه والو ته د یاد دفتر لخوا تمويل شوي د همکارۍ نوښتونو لاندي پرمختګونو او په پراخه سیمه کې د پولې غاړې همکارۍ په اړه د نشه يي توکو او جرمونو په برخه کې د ملګرو ملتونو د دفتر هراړخيزې مفکوري په اړه معلومات ورکړل.

۳۰. د نومبر د میاشتې په ۲۵ نېټه د افغانستان د اقتصاد وزیر، عبدالهادی ارغندیوال د شانګهاي د همکاریو سازمان د حکومتونو د مشرانو په غونډه کې چې په دوشنبې کې جوړه شوې وه، ګډون وکړ. ارغندیوال ووړل چې افغانستان به د ترهګرۍ او سخت دريځۍ په وړاندې دوامدارو اقداماتو ته دوام ورکړي او غښتنه يي وکړه چې په دغه سازمان کې افغانستان ته بشپړ غړیتوب ورکړل شي.

**دریم: ستره افغان مشرتابه ته لیږد: د کابل کنفرانس په تعقیب پرمختګ او د کابل پروسې پلې کول**

۳۱. د جولای د میاشتې په ۲۰ نېټه په کابل کې د افغانستان په اړه د نړیوال کنفرانس را پدېخوا، حکومت د لندن او کابل په کنفرانسونو کې د مشخص شوی لارښود چې د کابل پروسې په نوم یادیږي، د پلي کولو لپاره خپل هوډ څرګند کړ. د همغږۍ او څارنې د ګډ بورډ پنځلسمه ناسته چې د نومبر د میاشتې په ۱۵ نېټه ترسره شوه، حکومت ته دا فرصت برابر شو چې په دغو کنفرانسونو کې د شویو ژمنو د پلي کېدو په اړه د خپل لومړي ۱۰۰ ورځنۍ پرمختګ راپور وړاندې کړي. د حکومت په وینا، د ۲۰۱۰ کال د اکتوبر په میاشت کې د ۷۰ سلنې څخه ډیر هدفونه پوره شوي. دغه فعالیت د افغانستان د لیږد او پراختیا لپاره د مالکیت او مسؤلیت په غاړه اخیستو کې د حکومت مخ په زیاتیدونکي ظرفیت څرګندوی وو.

۳۲. د همغږۍ او څارنې ګډ بورډ د غونډې یو مهم عنصر د حکومت لخوا د څارنې او راپور ورکولو چوکاټ وړاندې کول وو چې د هر یو ۲۲ لومړیتوب پروګرامونو پرمختګ تعقیب کړي. چوکاټ د لومړي ځل لپاره حکومت ته د مدیریت وسیله چمتو کوي ترڅو د خپلو اوسنیو ژمنو په وړاندې د وړاندي کولو کچه وارزوي او په پیل کې، د کوم پروګرام د پرمختګ په وړاندې خنډونه راپه ګوته کړي. دغه چوکاټ د افغان ولس لپاره د حکومت د فعالیتونو روڼتیا او حساب ورکونې ته هم به وده ورکړي. حکومت یادونه وکړه چې د څارنې د نوې وسیلې په رامنځته کولو سره به بې تمرکز د پروګرام له طرحې او پلان جوړونې څخه د تطبيق او د وړاندي کولو په لور واوړي. د راپور ورکولو دغه سیستم په نهایت کې د کابل پروسې د تطبیق په اړه د حکومت او نړیوالې ټولنې تر منځ د واقعیت پر بنسټ د تګلارو خبرو اترو ته لاره به آسانه کړي.

۳۳. زما د تیر راپور را پدېخوا، د حکومت د کار ډیر څرګندې پایلې د ټولو ۲۲ ملي لومړیتوبونو پروګرامونو لپاره د لنډې او منځ مهالې مودې د پلانونو د تطبیق جوړولو پورې اړه لري چې موخه يې د افغانستان خلکو ته پر وخت د خدماتو وړاندې کولو

ډاډمنول دی. د عامه مالي مدیریت د پیاوړتیا لپاره طرح شوی پروګرام، لومړنی پروګرام دی چې نهایي شوی، لګښت پرې شوی او ډونرانو ته وړاندې شوی دی. حکومت راپور ورکړ چې د لندن او کابل کنفرانس کې د ټاکل شویو اهدافو څخه ډیر، د ملي اردو او افغان ملي پولیسو شمېر لوړ کړی دی. د حکومتولۍ په برخه نورو پرمختګونو کې، په ځانګړې توګه، په اړوندو ټاکل شویو وزارتونو کې له فساد سره د مبارزې د کاري پلانونو تصویب، له فساد سره د مبارزې او د پلټنې د قوانینو طرحه او د کابینې له خوا د افغانستان لپاره د دولت په بودجه کې د بشري حقونو خپلواک کمیسیون لپاره، چې تر دې وړاندې په بشپړه توګه د نړیوالو مرستو له لارې تمویل کیده، د لګښت تصویب شامل دی.

۳۴. د وزیرانو د کار د منطقي کولو لپاره د "کلسټر" میکانیزم د وزارتونو ترمنځ د لا زیاتې همغږۍ او همکارۍ لپاره د مرکزي وسیلې په توګه دوام درلود چې د امنیت، حکومتولۍ، ټولنیزې - اقتصادي پراختیا په برخو کې د هر اړخیزې تګلارې لاربښوونه کوي چې پکې د څو وزارتونو کار شامل دی. پداسې حال کې چې د بشري منابعو پراختیا او د کرهنې او د کلیو پراختیا کلسترونه پرته له کوم بدلون څخه په خپل حال پاتې دي، د زیربناو او اقتصادي پراختیا کلستر د زیربناو او د خصوصي سکتور پراختیا په کلستر کې ویشل شوي دي. دغه راز د حکومتولۍ کلستر د عامه اداري په برخه کې په یوه کلستر کې وېشل شوی دی چې مشري یې د سیمه ییزو ارګانونو د خپلواکې ادارې په غاړه ده او بل کلستر د قانون د حاکمیت په برخه کې دی چې مشري یې د عدلیې وزیر کوي. امنیتي کلستر، چې د دفاع وزیر تر عمومي مشرتوب لاندې دی، په دوو فرعي ډلو ویشل شوی؛ د امنیت ډله او بل د سولې او بیا پیوستون ډله .

۳۵. د حکومتولۍ کلستر خپل کاري پلان بشپړ کړی، چې په کې د منځ مهاله مالي چوکاټ د پراختیا پورې اړوند کلیدي احکام شامل دي ترڅو لګښتونو او کورنیو عوایدو ته لومړیتوب ورکړي، او همدارنګه د عامه ادارې اصلاحاتو بیا رغولو لپاره یوه تګلاره جوړه کړي، د ملکي خدمتونو قانون بیاکتنه وکړي او د معاشاتو او رتبو د اصلاحاتو د پلي کولو پروسه چټکه کړي.

۳۶. په څو ولایتونو کې د عدلیې وزارت د حقوقي مرستو د دفترونو په پرانستلو او نویو سیمو ته د غیر دولتي موسسو د حقوقي مرستو د برابرونکو له خوا د خدمتونو غځېدلو سره عدالت ته لاس رسی ښه شوی دی. د قانون او نظم وجهي صندوق سره د ډونرانو د یوې وروستي هوکړې له مخې چې په ۲۰۱۱ کال کې به د بندیخانو د کارکوونکو معاشونه زیات کړای شي تر څو د پولیسو افسرانو د معاشونو سره برابر، او همدارنګه تمه کیږي چې د بندیخانو د کارکوونکو کمښت هم بشپړ شي.

۳۷. حکومت د راتلونکي مالي کال د بودیجې د چمتو کولو په لړ کې د اوسنیو او پلان شویو مالي ژمنو په اړه له نړیوالو شریکانو سره بحثونه پیل کړي او هغوی ته یې د خپلو ژمنو یادونه کړې چې په تدریجي ډول سره خپلې ۵۰ سلنه پراختیایي مرستې د افغانستان د بودجې له لارې به ولګوي او ۸۰ سلنه یې د حکومت له لومړیتوبونو سره په سمون کې کړي. حکومت د تمویل کوونکو فعالیتونو لپاره چې د افغانستان له بودیجې نه بهر تمویلیږي، تفصیلي معیارونه او لارښوونې چمتو کړي، ترڅو ډاډه شي چې دغه فعالیتونه د افغانستان د پرمختیایي لومړیتوبونو سره سمون ولري.

**څلورم: د مرستو همغږي**

۳۸. د خپل ماموریت په ترڅ کې، یوناما د افغان حکومت د فساد سره د مبارزې اجنډا د ملاتړ په موخه د دونرانو مرستو لپاره د یوې همغږې کړنلارې رامینځته کولو کې ډیر لوی رول لوبولی دی. په ځانګړې توګه، یوناما د نړیوالې ټولنې د روڼتیا او حساب ورکونې کاري ډلې د ګډ رئیس او د نظارت عالي دفتر د ملاتړ لپاره د ملګرو ملتونو مرستندویه ډلې د رئیس دندې په غاړه اخیستې ده. کاري ډله د اداري فساد ضد کړنلارو په پلي کولو، د شتمنیو ځرګندونې تایید او خپرولو کې پې چټکتیا، او په ملکي خدماتو کې د ګمارلو د اغیزمنتیا په لوړولو کې د مناسبو دولتي بنسټونو سره پر مرستې تمرکز کوي. د ډونرانو ډله د دې لپاره رامینځته شوی چې د ډونرانو د مرستې لپاره په زیاتیدونکې توګه همغږې شوي تګلاره ډاډمن کړي، په ځانګړې توګه، د مرکزي حکومت د نظارت عالي دفتر ته، چې د فساد سره مبارزه کې مهم رول لوبوي.

۳۹. په سیمه ییزه کچه د پرمختیایي فعالیتونو د همغږۍ ملاتړ د یوناما لپاره یو ستر لومړیتوب دی. دا هڅه درې مهم عناصر لري. لومړی دا چې ډاډ ترلاسه شي چې په سیمه ییزه کچه فعالیتونه د حکومت لخوا ټاکل شوي ملي لومړیتوبونو سره سمون او تړاو ولري. دوهم عنصر، د ولایتي بیارغونې ټیمونو لخوا ترسره شوي ملکي - نظامي فعالیتونو سربیره د ولایت په کچه د پرمختیایي فعالینو ترمنځ د اړیکو او همغږي ملاتړ او وده ده. دریم او خورا مهم عنصر د سیمه ییزو چارواکو ملاتړ تر څو دوی د خپلو سیمه ییزو واک په سېمو (لکه ولایتونو، ښاروالیو او ولسوالیو) کې د پرمختیایي فعالیتونو د همغږي لپاره مشري په غاړه واخلي؛ او دا ملاتړ به د سکتوري کاري ډلو له خوا د ولایتي لومړیتوبونو او تشو پیژندلو له لارې، او همدارنګه د ولایتي پرمختیایي شوراګانو له لارې، چې مشري یې والیان په غاړه لري، ترسره شي. د دولت په مشرۍ د دې پروسو سره د ولایتي بیارغونې ټیمونو، تمویل کوونکو او نورو پلي کوونکو شریکانو یوځای کول به اړین وي، په داسې حال کې چې افغان بنسټونه د لیږد د پروسې په لړ کې لا زیات عملي واک په غاړه اخلي. د یوناما د ساحوي دفترونو پیاوړتیا او پراختیا، او د یو واحد ستراتیژیک چوکاټ د پراختیا له لارې د ملګرو ملتونو د شریکانو ترمنځ پراخه همغږي چې اوسمهال تر کار لاندې ده، د یوناما د پراختیایي همغږۍ ماموریت په اغیزمنه توګه د وړاندې کولو په ترڅ کې مهم ګامونه دي.

**پنځم: بشري مرستې، بیارغونه او پراختیا**

۴۰. دوامداره ناوړه امنیتي وضعیت د پرمختیایي پروژو په پلي کولو کې خنډ جوړ کړی او بشردوستانه فعالیتونو ته لاسرسي محدوده کړی دی. په هر حال، د روانې جګړې اغیزې د بشري مرستو غوښتنه ډیره کړې ده. د نومبر د میاشتې په وروستیو کې، د بشردوستانه چارو د همغږۍ دفتر د ۲۰۱۱ کال د «افغانستان د واحد غوښتنې پروسه» پیل کړه، چې د لاندې لومړیتوبونو پر بنسټ ولاړ ده: (الف) د جګړو او طبیعي پیښو له امله اغیزمنو خلکو ته بشري مرستې او خوندیتوب چمتو کول؛ (ب) د اوږدمهاله زیانمنېدونکې حالتونو له کبله بشري اړتیاوو لپاره اقدام؛ او (ج) د پیژندل شویو ګواښونو لپاره بیړني پلان جوړونه او د ناورین لپاره چمتووالی. د ۲۰۱۱ عمومې غوښتنه اوس مهال ۶۶ سلنه تمویل شوی، که څه هم په مهمو سکتورونو کې د پام وړ تشې شته، او په ځانګړې توګه د پوهنې، اوبو او روغتیا ساتنې په برخو کې د لږ تمویل شوي لومړیتوب پروژو لپاره په بیړنۍ توګه نور ملاتړ ته اړتیا ده.

۴۱. د راپور په موده کې، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ د دفتر په مرسته ۱۱۶۴۲ افغان کډوال بېرته هېواد ته راستانه شوي، چې په دې سره د ۲۰۱۰ کال له پیله د مرسته شویو راستنیدونکو افغان کډوالو ټولیز شمېر ۱۱۲۵۴۲ ته رسېدلی دی. په همدې موده کې د پاکستان له سېلاب ځپلو سیمو (په ځانګړې توګه د خیبر پښتونخوا صوبه) څخه ۱۵۷۰

کسان افغانستان ته کډه کیدو سره اضافي مرستې ترلاسه کړي، او دې سره پاکستان کې د سیلابونو له پیل راهیسې خپل هیواد ته ستانه شویو سیلاب ځپلو افغانانو ټولټال شمیر ۴۷۱۴ ته رسیدلی دی.

۴۲. د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ دفتر لپاره، د افغانستان د راستنېدو عملیات یوازینی ستر عملیات دی. ستونزمن اقتصادي وضعیت او ادعا شوي ځورونه، او همدارنګه د پناه ورکوونکو په هیوادونو کې د نیول کیدو او شړل کیدو ویره، د بیرته راستنیدو په پریکړه کې مهم عوامل بلل کیږي. د یو مثبت ګام په ډول، د افغانستان په ځینو برخو کې د امنیت ښه والی، د کار فرصتونه، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ د مرستو کڅوړې او د حکومت لخوا د ځمکې د تخصیص طرحې هم د مرکه شویو کسانو د راستنېدو لاملونه بلل شوي دي.

۴۳. د ملي معافیت ورځو په ترڅ او د پولیو د له منځه وړلو په ملي کمپاین کې چې د ۲۰۱۰ کال د اکتوبر د میاشتې له ۳ څخه تر ۵ نیټې پورې په لاره اچول شوی و، په ټولیز ډول د افغانستان په ۳۴ ولایتونو کې ۷.۸ میلیونه له ۵ کلونلو کم عمره ماشومانو ته واکسین ورکړل شو. سربېره، د ۲ تر ۵ کلنۍ عمرونو ماشومانو ته د چینجي د لمنځه وړلو ګولۍ ورکړل شوي دي. دغه کمپاین، په ځانګړې توګه په بادغیس ولایت کې، په سخت ستونزمن امنیتي وضعیت کې تر سره شو. د سیمه ایزو مشرانو په واسطه، د ولسوالۍ د عامې روغتیا چارواکو وکولای شول چې د محلي طالب ځواکونو څخه د خوندي تګ راتګ تضمین ترلاسه کړي ترڅو دوی وکولی شي کمپاین مخ ته بوځي.

۴۴. د «واحد غوښتنې پروسې» له لارې، د خوړو نړیوال پروګرام د ۲۰۱۱ کال د جون تر میاشتې پورې د ۱۵۷ میلیون ډالرو په لګښت د ۱۰۳۶۰۰ ټنو خوراکي کمبود پوره کولو په موخه د بیړني اړتیا تمویل لپاره د ډونرانو څخه غوښتنه کړې ده. د خوړو نړیوال پروګرام په پام کې لري چې له ۶.۸ میلیونو څخه زیاتو زیانمنېدونکو افغانانو ته عمومي خواړه او نور هدفي مرستې برابر کړي. تر ننه، د روان درې کلن پروګرام د تمویل یوازې ۱۶ سلنه اړتیا پوره شوې ده. اوسنی کمبود د ښوونځي تغذیه، روزنه او حرفوي نوښتونه او د کار لپاره د خوړو پروګرام په ګډون پر ټولو پروګرامونو اغیزه کوي. که اضافي مرستې ترلاسه نه شي، د خوړو نړیوال پروګرام به په ټول افغانستان کې د خوړو د ویش پلان شوي فعالیتونه کم کړي. د کډوالۍ نړیوال سازمان د راتلونکې ژمي لپاره په کابل او د دغه سازمان په اتو فرعي دفترونو؛ ګردیز، جلال اباد، فیض آباد، کندز، مزار شریف، بامیان، هرات او کندهار کې د ۳۰ زره ژمنیو بسته بندۍ د تدارک او تخصیص لپاره پلان جوړ کړی دی. د ۲۰۱۰ کال تر پایه، د کډوالۍ نړیوال سازمان تمه لري چې نږدې ۸۰۰۰۰ کورنیو یا ۴۸۰۰۰۰ اشخاصو ته د سیلابونو او ژمنۍ بستې توزیع کړي.

۴۵. د کډوالۍ نړیوال سازمان په شمال کې د افغانستان د طبیعي پیښو د مدیریت د ملي ادارې د ظرفیت په لوړولو کې هم فعال دی او د ۲۰۱۱ کال لپاره د بیړنیو بحراني حالاتو لپاره زېرمه راټولوي.

۴۶. د ماین پاکۍ پروګرام له مخې، د بیړني غبرګون ټیمونه اوس د هیواد له اوو سیمو څخه شپږو سیمو کې شتون لري. له دې کبله چې دا پروګرام په تیر ربع کې فعال شوی، تر اوسه د ماین پاکولو ۲۱ بیړنیو غوښتنو ته غبرګون ښودلی دی. برسیره پردې، د ماین پاکولو فعالیتونو ټیمونه د افغانستان په شمال او لویدیځ کې د ربل پټلۍ د نوي سیستم لپاره ځمکه پاکه کړې ده.

۴۷. د ملګرو ملتونو ښوونيزه، علمي او کلتوري اداره د ملګرو ملتونو د نورو اړوندو ادارو سره په ګډه د افغانستان لپاره د زده کړې د ملاتړ ملي تګلاره نهايي کوي. دا ستراتيژي «د ملي زده کړو ستراتيژيک پلان»، «د لوړو زده کړو ملي ستراتيژيک پلان» او «د زريزې د پراختيا موخو» او «زده کړه د ټولو لپاره» د نوښت اهدافو ته د رسيدو لپاره د ملګرو ملتونو ملاتړ راپه ګوته کوي. برسېره پر دې، د ملګرو ملتونو ښوونيزه، علمي او کلتوري سازمان او د پوهنې وزارت په ګډه د کابل په ۲۹ ښوونځيو کې د يوې ازمايښتي پروژې په توګه «په افغانستان کې د ټول شموله زده کړو د اړتياوو او حقونو ارزونه» په لاره اچولې ترڅو د معلوليت لرونکو ماشومانو د تدريس د ميتودونو او تګلارو د پراختيا ملاتړ وکړي.

۴۸. د ملګرو ملتونو د هيواد ټيم د جنسيت کاري ډلې دوه ورځنۍ غونډه چې د اکتوبر د مياشتې په ۲۰ او ۲۱ نېټه ترسره شوه، د ملګرو ملتونو د پراختيايي مرستې چوکاټ او د حکومت د لومړيتوبونو سره سم د جنډر مساوات په اړه د ملګرو ملتونو ستراتيژيک لومړيتوبونه په ګوته کړل. په راتلونکو دريو کلونو کې، د تمرکز کليدي ساحې به دا وي: (الف) د افغانستان د سولې او بيا پيوستون د پروګرام په تطبيق کې د ښځو د ونډې هڅول، او سربېره پردې، د سولې د عالي شورا د نهو ښځينه غړو د ظرفيتونو لوړول او د سولې په بهير کې د ښځو د ګډون هڅول؛ (ب) د ښځو چارو وزارت سره د لومړيتوب پروګرام په پلي کولو کې د ملاتړ دوام؛ او (ج) په يو موټي ستراتيژيک چوکاټ کې د جنسيت د نظرونو شاملولو ډاډمنول.

۴۹. د ښځو اقتصادي پياوړتيا د ميندو د مړينې د کمولو يو مهم اړخ دی چې د ملګرو ملتونو د هيواد په کچه د ټيم لخوا د يو بيړني لومړيتوب په توګه پيژندل شوی دی. د سپتمبر د مياشتې راهيسې، له ۱۹۵۰۰۰ څخه زياتو افغانانو – چې ډيری يې ښځې دي – د خوړو نړيوال پروګرام د حرفوي مهارتونو د روزنې په پروګرامونو کې برخه اخيستې ده. د دې تر څنګ د ملګرو ملتونو د خوړو او کرهنې سازمان «په کور کې د چرګانو د پالنې» پروژې په چوکاټ کې، په ۲۰۱۰ کال کې په اوو ولسواليو کې پر کليوالو ښځو اوه زره د چرګانو بستې وېشل شوې وې.

**شپږم: د نشه يي توکو پر وړاندې مبارزه**

۵۰. د سپتمبر په مياشت کې، د مخدره توکو او جرمونو په اړه د ملګرو ملتونو دفتر د افغانستان د کوکنارو د کلنۍ سروې پايلې خپرې کړې. سروې وموندله چې په ۲۰۱۰ کال کې د کوکنارو کښت د ۲۰۰۹ په کچه پاتې ده و او د اپينو توليد نيمايي ته کم شوی و. د سروې د موندنو له مخې، د کوکنارو د کښت د پام وړ يوه برخه د هيواد په ناامنه سويلي او لويديځو ولايتونو کې دوام لري. په کندهار کې د کوکنارو کښت د ۳۰ سلنه زياتوالی سره ۲۵۸۳۵ هکتارو (۶۳۸۳۸ جريبه) ته لوړ شوی. دا څرګندوي چې د ناامنۍ سره د کوکنارو کښت هم زياتيږي. په افغانستان کې د ترياکو د ټولو کښت ۵۳ سلنه يوازې په هلمند ولايت کې کيږي. په ۲۰۱۰ کال کې له کوکنارو پاک ټول ۲۰ ولايتونه له کوکنارو پاک پاتې شول، په داسې حال کې چې څلور نور ولايتونه (کونړ، لغمان، زابل او هرات) په ټېټه کچه د کوکنارو د کښت څخه پاک وو. د کوکنارو د کروندګرو د هر هکتار ناخالص عايد د تير کال په پرتله ۳۶ سلنه زياتوالی سره له ۳۶۰۰ ډالرو څخه ۴۹۰۰ ډالرو ته لوړ شوی دی. په مقايسه کې، د غنمو د هر هکتار ناخالص عايد چې په ۲۰۰۹ کې ۱۲۰۰ ډالره و، په ۲۰۱۰ کې ۷۷۰ ډالرو ته راټيټ شوی دی.

۵۱. د افغانستان او ګاونډيو هيوادونو تر سرليک لاندې د مخدره توکو او جرمونو په اړه د ملګرو ملتونو دفتر د ۲۰۱۰ کال د اکتوبر په مياشت په ويانا کې د پاريس تړون د کارپوهانو ګردي ميز کوربه توب وکړ چې په کې ۳۲ هيوادونو او اتو سيمه ييزو سازمانونو برخه اخيستې وه. د دغې ګردي ميز مهمې سپارښتنې په لاندې ډول دي: (الف) د سيمه ييزو همکاريو لپاره له افغانستان او ګاونډيو هيوادونو سره د سياسي، مالي او تخنيکي ملاتړ زياتول؛ (ب) په الماتا کې د مرکزي آسيا د سيمه ييزو معلوماتو مرکز او په تهران کې د ګډ پلان جوړونې څانګې رامنځته کولو له لارې د سيمه ييزو استخباراتو شريکولو ميکانيزمونو ته وده ورکول او د سرحدي اړيکو دفترونو پراخول؛ (ج) د معتادانو لپاره د خدماتو پوښښ ښه کول؛ او (د) په سيمه کې د هغو ماشومانو لپاره چې د مخدره توکو کارولو سره مخ دي د جنايي عدلي بنديزونو پر ځاي د لږ لګښت لرونکی بديل په توګه د معالجې لپاره پر درملو پانګه اچونه. د نورو مسلو تر څنګ چې پرې هوکړه وشوه، يوه دا پريکړه وه چې د پاريس تړون به د مخدره توکو پر کيميايي اجزاو د کنټرول د همغږۍ ملاتړ ته دوام ورکړي.

۵۲. د درې اړخيز نوښت د وزيرانو څلورمه غونډه په اسلام آباد کې د ملګرو ملتونو د نشه يي توکو او جرمونو د دفتر تر چتر لاندې جوړه شوه. د مخدره توکو د کنټرول د هڅو په لړ کې، د دغې غونډې اجنډا، د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې او د سرحدونو د مديريت په برخه کې د افغانستان، ايران او پاکستان ترمنځ د همکارۍ پراختيا وه. د افغانستان د مخدره موادو پر ضد د مبارزې وزير ضرار احمد مقبل عثماني؛ د ايران د اسلامي جمهوريت د نشه موادو د کنټرول د مرکزي دفتر عمومي منشي مصطفی محمد نجار؛ او د پاکستان د نشه يي توکو د کنټرول فدرالي وزير ارباب محمد ظاهر د نشه يي توکو د قاچاق په مخنيوي کې د همکارۍ د پياوړتيا لپاره تدبيرونه ونيول او د قانون پلي کوونکو چارواکو ترمنځ د همکارۍ د زياتولو لپاره د اضافي سرحدي دفترونو پر جوړولو هوکړه وکړه. وزيرانو په تهران کې د ګډ پلان جوړونې د څانګې د کار د پراخولو ژمنه وکړه چې موخه يې د مخدره توکو د ناقانونه قاچاق په اړه د معلوماتو شريکول ده. د درې واړو هېوادونو په سرحدي سيمو کې د لا زياتو ګډو ګزمو د تنظيم په اړه هم موافقه وشوه. همدا راز وزيرانو د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې په برخه کې د قانوني همکاريو پر زياتولو هوکړه وکړه.

۵۳. د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې بل سيمه ييز نوښت د ۲۰۰۹ د مارچ په مياشت کې د دوبۍ پروسې د عمل پلان سره سم، د افغانستان او پاکستان د حکومتونو د استازو غونډه وه، چې د نومبر د مياشتې په ۱۳ او ۱۴ نېټو کې په کابل کې جوړه شوې وه. د ګمرکونو او قانون پلي کولو په اړه ګډ کاري ګروپونه د دوبۍ په ناسته کې په ګوته شويو ژمنو ته وده ورکولو لپاره غونډه وکړه او په وروستنيو غونډو کې يې پراختيا موندلې وه. په دې غونډه کې چې د کاناډا د حکومت د استازي په مشرۍ جوړه شوې وه، د ملګرو ملتونو د نشه يي توکو او جرمونو په برخه کې د ملګرو ملتونو د دفتر، نړيوال بانک، آسيا بنسټ، د سرحدونو د مديريت کاري ځواک، د امريکا د متحده ايالاتو د نړيوالې پراختيا ادارې، د برتانيې او شمالي ايرلنډ د انګلستان حکومت، ايساف، ناټو، د کډوالۍ نړيوال سازمان او يوناما نړيوالو کارپوهانو ګډون کړی وو.

۵۴. د رينبو ستراتيژۍ يو عنصر، چې موخه يې د هيروينو د توليد لپاره د کيمياوي توکو نيول دی او «د قاچاق ضد هدفي سيمه ييزو اړيکو، تخصص او روزنېز نوښت» (ټارسټ-۲) عملياتو لاندې پيل شوی، پدې وروستيو کې پای ته ورسيد. «د قاچاق ضد هدفي سيمه ييزو اړيکو، تخصص او روزنېز نوښت» (ټارسټ-۲) لاندې د دغو کيميايي توکو د نيولو ترټولو وروستي عملياتو کې د لاندې مقدار اسيټيک انهايډرايډ ضبط شول: په افغانستان کې ۱۶۳۰ کيلوګرامه؛ د ايران په اسلامي جمهوريت کې ۳۸۳ کيلوګرامه او په پاکستان کې ۲۱۰۰۰ کيلوګرامه. «د قاچاق ضد هدفي سيمه ييزو اړيکو، تخصص او روزنېز نوښت» (ټارسټ-۳) عمليات د ۲۰۱۰ په سپټمبر په مياشت کې پيل شوی وو.

**اووم: بشري حقونه**

.۵۵ ملکي وګړي د سختې وسله والې جګړې زيان زغملو سره لا لاس وګريوان وو. د ۲۰۱۰ کال په لومړيو لسو مياشتو کې د ۲۰۰۹ کال د ورته مودې په پرتله د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې کچه ۲۰ سلنه زياته شوې دی د يوناما د شميرو له مخې، په دغه موده کې، د جګړو له امله ملکي تلفات ۶۲۱۵ وو، چې په کې ۲۴۱۲ کسان مړه او ۳۸۰۳ ټپيان دي. د ټولو ملکي تلفاتو له درې برخې څخه زيات د دولت ضد عناصرو پورې تړاو لري چې د ۲۰۰۹ کال د همدې مودې په پرتله ۲۵ سلنه زياتوالی څرګندوي. په ورته وخت کې د ۲۰۰۹ کال د لومړيو ۱۰ مياشتو په پرتله دولت پلوه ځواکونو ته منسوب ملکي تلفات ۱۸ سلنه کم شوي دي.

.۵۶ د راپور په موده کې، د دولت ضد عناصر د ۴۷۳۸ ملکي وګړو (چې د ټول ملکي تلفاتو ۷۶ سلنه کيږي) د مرګ ژوبلې مسؤل وو. د دولت ضد عناصرو له خوا تر ټولو زيات ملکي تلفات د ځانمرګو او تعبيه شويو چاوديدونکو توکو د بريدونو له امله رامنځته شوي، چې په پايله کې يې ۹۹۸ تنه وژل شوي (چې د دولت ضد عناصرو ته منسوب د ملکي تلفاتو ۵۵ سلنه جوړوي) او ۲۰۶۲ ټپيان شوي (چې د دولت ضد عناصرو ته منسوب د ملکي تلفاتو ۷۰ سلنه ده). په همدې موده کې، يوناما د حکومت پلوه ځواکونو ته منسوب د ۷۴۲ ملکي وګړو تلفات ثبت کړي (چې د ملکي وګړو د ټول مرګ ژوبلې ۱۲ سلنه ده). هوايي بريدونو د ملکي تلفاتو تر ټولو لويه شميره د دولت پلوه ځواکونو ته منسوبه کړې چې له کبله يې ۱۶۲ ملکي وګړي وژل شوي (دولت پلوه ځواکونو ته منسوب د تلفاتو ۴۲ سلنه) او ۱۲۰ ټپيان دي (دولت پلوه ځواکونو ته منسوب د تلفاتو ۳۴ سلنه ده).

.۵۷ د دولت ضد عناصرو د هغو اشخاصو په وړاندې چې د افغان حکومت او نړيوالې ټولنې ملاتړي دي يا ګڼل کيږي، خپل ډارولو کمپاين ته دوام ورکړی. يوناما د راپور په موده کې ۴۰۳ وژنې او اعدامونه او د ملکي وګړو د تښتونې ۲۱۹ پېښې ثبت کړې دي. د ۲۰۰۹ کال د همدې مودې په پرتله، په ۲۰۱۰ کال کې د دولت ضد عناصرو له خوا د وژل شويو يا اعدام شويو ملکي وګړو شمير له ۱۰۷ سلنې څخه ډير شوی دی. د ټولو ملکي وژنو تر نيمايي زياتې برخه د افغانستان په جنوب کې شوې ده.

.۵۸ يوناما، "په افغانستان کې د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د لمنځه وړلو د قانون تطبيق اوزيان رسونکي سنتي دودونه" تر عنوان لاندې خپل راپور کې چې د دسمبر د مياشتې په ۹ نېټه خپور شو، موندلې چې په پراخه کچه د ماشومانو ودونه، اجباري ودونه ( چې پکې د شخړو د حل لپاره د نجونو ودول شامل دی)، له کوره بهر د هغوی پر تګ راتګ محدوديتونه او د "غيرت" په نامه جرمونه د افغان ښځو او نجونو حقونه تر پښو لاندې کوي. د راپور موندنې دا حقيقت په ګوته کوي چې د حکومت لخوا په ټول هيواد کې د قانون بشپړ پلي کول، د تاوتريخوالی او له تبعيض څخه ډک دا ډول کړنو څخه د ښځو د ساتنې لپاره غوره امکانات وړاندې کوي.

.۵۹ د مدني ټولنې شبکو د سولې، بيا پيوستون او پخلاينې په بهير کې د ټول شمول او څرګندتيا د ډاډمنولو لپاره د خپل ملاتړ هڅې زياتې کړي. د مدني ټولنې بنسټونو يو ځل بيا له حکومته پر خپلو غوښتنو ټينګار کړی چې د سولې عالي شورا پر غړيتوب له سره غور وکړي او له بشري حقونو څخه په سرغړونو او جنګي جرمونو تورن غړي له دندو لرې کړي. په يوه وينا کې

چې د اکتوبر په څلورمه خپره شوه، د ښځو ډلې په یاده شورا کې د ښځو د لا زیات استازیتوب غوښتنه وکړه ( چې یوازې لس سلنه غړي یې ښځې دي).

۶۰. د نومبر د میاشتې په ۱۰ نېټه، د مدني ټولنې او بشري حقونو شبکه، د انتقالي عدالت نړیوال مرکز او په افغانستان کې د پرانستې ټولنې بنسټونو دفتر، د یوناما په همکاری د "عدالت او پخلاینې" په اړه کنفرانس جوړ کړ. د مدني ټولنې استازو او د افغان سولې او بیا پیوستون پروګرام او د سولې عالي شورا حکومتي چارواکو د حکومت او مدني ټولنې ترمنځ د سولې، عدالت او پخلاینې اړوند مسلو په اړه د مشورو د پیاوړتیا لپاره د مشخصو اقداماتو په اړه خبرې وکړې. د مدني ټولنې ډلو یوه اعلامیه خپره کړې چې پکې حکومت او نړیوالې ټولنې ته نهه وړاندیزونه شوي. په دغو وړاندیزونو کې د سولې په بهیر کې د مدني ټولنې د شاملیدو د اسانتیا لپاره د مشورتي کاري ډلې جوړول، د پخلاینې د نوښتونو د بشپړولو لپاره د عدلي پروسې رامنځته کول او د حقایقو لټون میکانیزم رامنځته کول شامل دي. دوی همدا راز د سولې او بیا پیوستون د بهیر د لا روڼتیا او د سولې د عالي شورا د جوړښت د بیاکتنې غوښتنه وکړه، تر څو د مدني ټولنې، ښځو او اقلیتونو لا زیات استازیتوب ډاډمن کړي.

۶۱. د هیواد په کچه د توقیف ځایونو د څارنې د خپلې تګلارې د یوې برخې په توګه، یوناما د ملي امنیت ریاست او د عدلیې وزارت په یو شمیر توقیف ځایونو کې له توقیف شویو کسانو سره چلند څیړلی دی. دا پروګرام د افغان چارواکو له خوا بندیانو سره د انساني چلند او د محاکمې د مخه، د بند په مرحله کې د عادلانه محاکمې تضمینونو ته د درناوي د کچې څارنه کوي. د توقیف ځایونو څخه د لیدنو په جریان کې، یوناما د افغان چارواکو لخوا د بندیانو سره د جدي ناوړه چلند او اذیت د پېښو راپورونه ترلاسه کړي، چې په کې بنسټیزو طرزالعملونو خوندیتوب ته درناوی نه دی شوی، او دا د افغانستان او نړیوالو قوانینو څخه سرغړونه ده.

**اتم: د ماموریت ملاتړ / عملیاتي مسئلې**

۶۲. د ۲۰۱۰ کال د نومبر د میاشتې په ۲۸ نېټه، د ملګرو ملتونو او د کویت د حکومت تر منځ په رسمي توګه په کویت کې د یوناما د ملاتړ دفتر د پرانستلو تړون لاسلیک شو. د ملاتړ دفتر به ماموریت ته وړتیا ورکړي چې د خپلو مهمو معلوماتو دوامداره زیرمه ډاډمن کړي او حیاتي تخنیکي او اداري دندې په خوندي چاپیریال کې پر مخ یوسي. دا به په افغانستان کې د بیړني حالت په صورت کې د انتقالي مرکز په توګه هم کار وکړي.

۶۳. د ۲۰۱۰ کال د اکتوبر د میاشتې په ۴ نېټه، یوناما د هالنډ له حکومت سره یو تړون لاسلیک کړ چې د نومبر د میاشتې تر ۱ نیټې پورې د الفا په نوم کمپونډ ملګرو ملتونو ته وسپاري. کمپونډ ته د دفتر او استوګنې دواړو ځایونو انتقال د ۲۰۱۰ کال د نومبر د میاشتې په پای کې بشپړ شوی وو. دغه نوې ودانۍ، چې د کابل په مرکز کې موقعیت لري، د ۷۰ نړیوالو کارمندانو لپاره د کار ځای او د استوګنې ځای او د ۸۰ نورو ملي کارکوونکو لپاره کاري ځای چمتو کوي.

۶۴. په هرات کې د اکتوبر د میاشتې د ۲۳ نیټې برید چې د ملګرو ملتونو د پروژوي خدماتو د دفتر او یوناما لخوا په ګډه اداره کېږي، د ماموریت په ټولو سیمه ییزو او ولایتي دفترونو کې د امنیت د زیاتولو پر اهمیت ټینګار کوي. په کندهار کې دولت یوناما ته په ویړیا توګه ځمکه ځانګړې کړې او په هغه ځای کې د یوې نوې ودانۍ د جوړولو پلانونه روان دي. د ۲۰۱۱ کال په بودجه کې په بامیان، کندز او مزار شریف کې د نویو، ډیر امنیت لرونکو ودانیو د جوړولو او په نورو ځایونو کې، لکه څنګه چې د خوندیتوب او امنیت ریاست لخوا وړاندیز شوی، د اضافي ښه والې د دوامدار پروګرام لپاره بودجه په نظر کې نیول شوی دی.

۶۵. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د عملیاتو له مرکز څخه چې له کابل ښار څخه لرې بهر موقعیت لري، د ښار په مرکز کې الفا ودانۍ ته د ګڼ شمیر کارکوونکو لیږدول او همدارنګه په کویټ کې د یوناما د ملاتړ دفتر ته د ۳۹ تخنیکي او اداري کارکوونکو تبدیلي، په کابل کې د استوګنې اضافي خوندي واحدونه چمتو کړي دي. په سیمه ییزو او ولایتي دفترونو کې هم د امنیت د زیاتولو دوامدار پروګرام پیل شوی دی تر څو په ساحوي دفترونو کې اضافي خوندي د استوګنې واحدونو چمتو کړای شي. خو بیا هم له ودانیو څخه بهر امنیتي خطرونه ډیر دي، او په کمپونډونو کې د ننه لاهم ډیر کار باید تر سره شي تر څو د هغوی امنیت ښه شي. په ځینو ځایونو لکه کندهار کې د نویو ودانیو جوړولو ته به اړتیا وي.

۶۶. د ماموریت لپاره د نویو کارکوونکو ګمارلو پروسه ښه شوي دي. په هرصورت، د ۳۰ سلنې بدلون کچه پدې معنی ده چې د په کارګمارلو دوامداره فعالیت باید وساتل شي. د ۲۰۱۰ کال د نومبر د میاشتې تر ۳۰ نېټې پورې د نړیوالو کارکونکو لپاره د خالي بستونو عمومي کچه ۳۶ سلنه وه، چې د ماموریت لخوا د ګمارنې د سختو هڅو پر بنسټ په روان کال کې تدریجي پرمختګ څرګندوي.

**نهم: مشاهدات**

۶۷. د کابل پروسه هغه پلان دی چې د افغانستان حکومت او د هغه نړیوالو شریکانو له خوا پرې موافقه شوې تر څو داسې شرایط رامنځته کړي چې افغانان وکولای شي د خپل حکومت، امنیت او اقتصادي پرمختګ بشپړ مسؤلیت په غاړه واخلي. بشپړ افغان مشرتابه او مالکیت ته لیږد، او افغان وګړو ته د عملي پایلو د وړاندې کولو ظرفیت لوړول د حکومت او نړیوالې ټولنې ترمنځ پیاوړې ملګرتیا ته اړتیا لري. د کابل پروسې د تطبیق د ملاتړ لپاره، دا مهمه ده چې نړیواله ټولنه په بشپړه توګه د حکومت له تګلارو او لومړیتوبونو سره د خپلو مرستو په سمون کې ژمن واوسي. دا هم مهمه ده چې دا ملګرتیا د خبرو اترو پر بنسټ وي. د ګډې همغږۍ او څارنې بوډ پیاوړی میکانیزم، د نورو ترڅنګ د مدني ټولنې او خصوصي سکټور سره د تګلارو خبرو اترو لپاره یو مهم پلتفورم به چمتو کړي، ترڅو تعقیب، منظمه ښکیلتیا او تر ټولو مهمه، زموږ پر متقابلو ژمنو عمل ډاډمن کړي. په لیزبن کې د ناټو د سرمشریزې په ترڅ کې د افغانستان غونډه د انتقال لپاره د قوي نړیوال ملاتړ باندې ټینګار وکړ، چې په پای کې باید له عدالت سره د سولې لپاره د افغانانو اړتیا او د سیمه ییز ثبات په تامین او د سخت دریځی د ګواښونو په له منځه وړلو کې د نړیوالې ټولنې پیاوړې لېوالتیا متوازن کړي.

۶۸. د نړیوالې ټولنې او حکومت ترمنځ شراکت باید انعطاف منونکی وي او د واقعي عرصو د شرایطو او اړتیاوو سره سمون ولري. په داسې حال کې چې د بشپړ افغان مشرتابه او مالکیت ته د لیږد بهیر مخ په وړاندې روان دی، حکومت او نړیواله ټولنه

باید د مهال ویش پر ځای له واقعیتونو لاربښوونه ترلاسه کړي. دا بهیر په هغه صورت د افغانانو لپاره، چې اصلي برخه اخیستونکي یې دي، د قناعت وړ به وي چې د حکومتولۍ، امنیت او پراختیا په برخه کې د محسوس پرمختګونو پر بنسټ وي.

۶۹. په داسې حال کې چې د افغانستان د حکومت په مشرۍ حکومتولۍ، امنیت او اقتصادي وده پیاوړې کیږي، باید د جګړې د پای ته رسولو او د سیاسي خبرو اترو له لارې د تلپاتې سولې د بنسټونو د رامنځته کولو لپاره هڅې دوام ومومي. دا بهیر به د پام وړ ننګونو سره مخ وي، چې یوازې د دولت، د ګاونډیو او د سرتیرو په برخه کې د مرستې کوونکو هیوادونو او د وسله والو مخالفو ډلو مشرتابه په ګډون د ټولو ښکیلو اړخونو په دوامداره ملاتړ سره پای ته رسیدای شي. تر ټولو مهم اړخ دا دی چې دا به د یو متحد نفوس ملاتړ ته اړتیا ولري. که سترو ښکېلو غاړو موافق وي، ملګري ملتونه چمتو دي چې د افغانانو په مشرۍ د دې پروسې په لوژستیکي، مادي او تخنیکي توګه ملاتړ وکړي. یوناما د سلام ملاتړ ګروپ تر نامه لاندې د نه څرګندیدونکی ظرفیت سره یو میکانیزم رامنځته کوي چې په مناسب وخت کې دا ډول مرسته چمتو کړي.

۷۰. که څه هم دا ننګونې باید کمې ونه ارزول شي، داسې احساس کیږي چې د پخلاینې لپاره شرایط مخ په ښه کیدو دي، او دا چې ډیر ژر به د سیاسي خبرو اترو لپاره یو ریښتینی فرصت رامنځ ته شي چې د توافق سبب وګرځي. ټول اړخونو باید داسې سیاسي هوکړې ته د رسیدو لپاره هڅې او جوړجاړی وکړي. خو هر ډول سیاسي توافق باید د افغانستان اساسي قانون ته درناوی وکړي او په وروستیو کلونو کې، په ځانګړې توګه د بشري حقونو او ډیموکراسۍ په برخو کې، ریښتینې لاسته راوړنې کمزورې نه کړي.

۷۱. د سیمه ییزو همکاریو په برخه کې به لا زیاتو هڅو ته اړتیا وي. د افغانستان او پاکستان ترمنځ د سیاسي، اقتصادي او امنیتي اړیکو د ژورولو لپاره، چې د دواړو هېوادونو په ګټه ده، دوامداره خبرو ته اړتیا ده. د سوداګرۍ پالیسي آزادول، د ګمرکي چارو عصري کول، او د ترانسپورټ زیربناو پراختیا ته اړتیا ده ترڅو د سوداګرۍ او ټرانزیټ په برخو کې د لا دمخه لاسته راوړنو څخه ګټه واخستل شي. د انرژۍ په سکتور کې، له ګاونډیو هېوادونو سره د برېښنا د پېرلو او سوداګریزو تړونونو لاس ته راوړل او د افغانستان د خصوصي سکتور د مخ پر ودې پیاوړتیا سره پرمختګ، د افغانستان صنعتي پراختیا ته هم انګیزه ورکوي. د اوبو برېښنا او حرارتي برېښنا سربیره، د نوي کیدونکې برېښنا تولید لپاره فرصتونه باید نور هم وڅیړل شي تر څو افغانستان خپل اقتصادي ظرفیت پوره کړي. د سیمه ایزو همکاریو لپاره د افغانستان د ظرفیت په لوړولو کې پانګونه به په سیمه ایزو اقتصادي او سوداګریزو ترتیباتو کې د هیواد د یوځای کیدو بهیر ګړندی کړي. په دې برخه کې د بهرنیو چارو په وزارت کې د سیمه ییزو همکاریو د مرکز مخ پر ودې ظرفیت یو مثبت پرمختګ او د خپلې پراختیایي اجنډا د جوړولو لپاره د حکومت د ظرفیت د زیاتوالي څرګندوی دی.

۷۲. د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې په برخه کې د همکارۍ د پراختیا زمینه هم شتون لري. پدې هڅو کې د استخباراتو په اړه د معلوماتو شریکول او د مخدره توکو او کیمیاوي موادو د نیولو لپاره د هڅو همغږي شامل دي. د سرحد کنټرول او مدیریت اضافي ننګونې رامنځته کوي چې د قانون پلي کولو بهتره وړتیاو ته اړتیا لري. د ملګرو ملتونو سیستم په دې برخه کې فعال دی او خپلې مرستې په همغږې توګه رسوي. ملګري ملتونه به د ناقانونه نشه یي توکو د دوامدارې ستونزې حل لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکړي لکه څنګه چې کابل ته د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرمونو په اړه د نوي اجرائیوي رئیس ښاغلي فیدوتوف لخوا په وروستي سفر کې ټینګار شوی.

۷۳. د ټاکنو په پروسه کې نیمګړتیاوې ډیرې وې خو د افغانستان د ټاکنیزو بنسټونو د خپلواکۍ او صداقت، او په یوه ستونزمن سیاسي، امنیتي او جغرافیایي چاپیریال کې د داسې پېچلو عملیاتو د تنظیمولو لوژیستیکي کارنامې د سر ته رسولو لپاره د ستاینې وړ دي. توکمیز استازیتوب کې بدلون ته په پام سره چې د پښتنې ټولنې د ناخوښۍ لامل شوی، د ټاکنو پایلو په منطقي ډول په افغانستان کې په ځینو ګوندونو کې سیاسي اندیښنې راپورته کړي دي. په هرصورت، دا بدلون د هیواد په ځینو سیمو کې د ټاکنو په بهیر کې د نیمګړتیاوو نه بلکه د ناامنیو پایله ده. د دې اندیښنو حل کول یو سیاسي دنده ده او باید د ټاکنیزو بنسټونو خپلواکي زیانمن نه کړي. په ځانګړې توګه، د افغانستان د قانون پلي کوونکي ارګانونه، د خپلو مشروع دندو د ترسره کولو په وخت کې، باید ډاډ ترلاسه کړي چې رسمي حدود ته درناوی وشي او سیاسي بهیرونه په نامناسب ډول ګرم و نه پیژندل شي.

۷۴. د ټاکنو د خپلواک کمیسیون لپاره دوامداره ملاتړ او د زده شویو درسونو هراړخیز تمرین د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام «د راتلونکې لپاره د قانوني او ټاکنیز ظرفیت لوړول» پروژې، چې د ۲۰۱۱ کال د مارچ په میاشت کې پای ته رسیږي، د فعالیتونو په سر کې دی. نړیواله ټولنه، ډونرانو او افغان شریکانو سره په ګډه باید د اوږد مهالو ټاکنیزو اصلاحاتو او د ملګرو ملتونو راتلونکې ملاتړ لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکړي ترڅو د ټاکنیزو بنسټونو چارې او ظرفیت لوړول دوام ومومي. د دې دوارو مسلو په اړه لومړني خبرې اترې لا دمخه پیل شوي او تمویل کوونکو په دې هڅو کې د مرستې لپاره چمتووالی ښودلی دی. مخکې له دې چې د ښکیلو غاړو علاقه کمه شي، د ټاکنیزو اصلاحاتو د بهیر د پیلولو لپاره خبرې اترې باید ژر تر ژره پیل شي. دا پروسه باید د افغانانو په مشرۍ او مالکیت وي چې ورسره د یوناما سیاسي او د نورو نړیوالو سازمانونو تخنیکي او مالي ملاتړ مل وي، او کیدای شي چې اروپایي ټولنه هم پکې د پام وړ رول ولري.

۷۵. د ملګرو ملتونو د کارکوونکو امنیت د سازمان لپاره یوه لویه اندیښنه ده، او په هرات کې د ملګرو ملتونو پر ودانۍ د اکتوبر د میاشتې برید د هغو خطرونو یادونه وکړه چې زموږ کارمندان ورسره مخ دي. زه د دوو غړو هیوادونو څخه ځانګړې مننه کوم چې سخاوت یې ملګرو ملتونو ته اجازه ورکړې چې امنیتي ګواښونه کم کړي. د کویټ حکومت چې د کویټ د ملاتړ دفتر په چمتو کولو سره، یوناما ته اجازه ورکړه چې یو شمیر کارکونکې چې شتون یې په افغانستان کې اړین نه دی، د ملاتړ چارو مخ بیولو لپاره کویټ کې ځای پرځای کړي. دا کار د هغو کارکوونکو لپاره چې په افغانستان کې یې شتون اړین دی، خوندي استوګنځایونه برابر کړي دي. د هالنډ حکومت ملګرو ملتونو ته په سخاوتمندانه نرخ هغه ودانۍ چمتو کړې چې د کابل په مرکز کې یې جوړه کړې وه، او په دې توګه اضافي خوندي استوګنځایونه یې چمتو کړي او د هغو کارمندانو خطر یې کم کړی چې زیاته دنده یې په ښار کې د ننه ترسره کیږي.

۷۶. په پای کې، زه له خپل ځانګړي استازي سټیفن دي میستورا، د یوناما له کارکوونکو او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو له ملي او نړیوالو کارکوونکو څخه مننه کوم چې د یو سوله ایز، باثباته او سوکاله افغانستان لپاره په ژمنتیا او زیار او شخصي خطر او ناراحتۍ سره د دې سازمان د لوړو ارمانونو استازیتوب ته دوام ورکوي.